UNAMA
د یوناما مطبوعاتي بیانیه

UNITED NATIONS
ASSISTANCE MISSION IN
AFGHANISTAN

یوناما د ټاکنیزو کمیسیونونو د کمیشنرانو د ټاکلو هرکلی کوي

کابل د ۲۰۱۶ کال د نوامبر ۲۲ مه – د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي دفتر(یوناما)د ټاکنیزو کمیسیونونو لپاره د کمیشنرانو د ټاکنې هرکلی کوي .دا ګام د ټاکنو په بهیر اوپه ټاکنیزوبنسټونو باندې د باور د بیا رامنځ ته کیدوښکارندویي کوي.

یوناما د قانون په چوکاټ کې دټاکنیزو اصلاحاتو د بهیر د چټکوالي او د ټاکنو لپاره د تیاریو په موخه ددغه پورته شوي مهم ګام ستاینه کوي .ټاکنیزکمیسیونونه مهم مسوولیت لري، چې د ټاکنو لپاره واقعي زماني جدول برابر او په ټاکنو کې د افغانانو د برخې اخیستو له اساسي حقه ملاتړوکړي .یوناما د ټاکنو کمیسیونونه هڅوي، چې له ټولو برخه والو غړو سره په رانه، بې پرې او هر اړخیزډول کار وکړي.

یوناما کمیشنرانو ته د نویو دندومبارکي ورکوي او دافغانانو په رهبرۍ د افغانانوپه مالکیت له ترسره کیدونکو ټاکنیزو بهیرونوسره د خپلې تخنیکي همکارۍ تیار ښیي.

* * *